مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شهسوارسنګروال ۲۰۲۲/۰۱/۱۰

# د امان الله خان بنېګڼي او تېر وتني

## د جي، پي ، يو هڅې

## ۳برخه

### په راولپنډی کې د سولې خبرې:

برېتانيا له يوې خوا پدې پوهېده چې اوس يې به نورو ستونزو او وسوسو سربېره په سيمه کې افغانستان ته ګاونډ کې يو نوی سياسي سيال چې له دوی سره په هر اړخيزه توګه رقابت کولی شي د نړی په سياسي جغرافيه کې منځته راغلي دی چې هغه شوروي اتحاد او د بلشويکانو واک او ځواک وه.
له بلې خوا دوی په دې هم پوهېدل، چې ځوان پاچا امان الله خان درېځ د خپل نيکه او پلار له سياسي درېځ نه تو پيرلري. دی دېته ژمن او هودمن دی چې افغانستان ازاد او خپلواک کړي.
پاچا امان الله هم په هېواد کې دننه او بهر يو شمېر ستونزې لرلې نو ځکه يې متارکه غوره و ګڼله، هغه هم پدې اند چې په لومړي سرکي د هېواد خپلواکي په خپله يو ستر برى دی.
د دواړو لورو لخوا يو شمېر ليکونه بشکته او پورته شول. د ساري په توګه لارډ چېلمسفورډ چې د جون په درېمي (۳) نېټې (۱۹۱۹ ز کال) د اوربند لپاره کوم وړانديز ونه کړي ول. پاچا امان الله يې په جواب کې وکښل(۱۹۱۹/۶/۱۱) :
افغانانو چې تل يې له خپل هېواد ،مذهب او وياړونو نه د دښمن په وړاندې دفاع کړې او جنګېدلي دي. تل يې يرغلګروته ماته ورکړې ده.
نو بيايي د وايسرای وړانديزونه ونه منل، لکه څنګه چې افغانانو د انګرېزانو د هوايي برېدونو په وړاندې مظاهرې وکړې دارنګه پاچا هم ګواښ وکړ، که چېرې زه افغانانو ته ووايم چې ستاسو په الوتکو برید وکړي نو افغانان به سر غړونه ونه کړي.
له دغو ځرګندونو وروسته د لندن مرکزي حکومت په ټينګار د برتانوي هند وايسرای يو پلاوی د هملتون ګرانټ **Hamelton Grant** په مشری وټاکه چې د راولپنډی د سولې په خبرو کې برخه واخلي.
له افغان لوري نه هم يو پلاوي ته د کورنيوچارو وزير د علي احمدخان په مشری دنده و سپارل شوه چې د جولای په مياشت کې هند ته دخبرو لپاره لاړ شي.
افغان پلاوي د جولای په (۲۵) نېټې پرته له عبدالهادي داوي نه چې له علي احمد خان سره يې له تللو ډډه وکړه راولپنډی ته ورسېد، چې غړي يې دغه کسان ول:
سردار محمديونس خان ،سردار عبدالعزيزخان، غلام محمد خان، ډاکترعبدالغني خان هندي او «افغاني هندو نرجن داس....
پلاوي ته دېرېکړې واک داسي په ګوته شوي وه، چې په لمړي سرکي د افغانستان بشپړه خپلواکي، د ډېورنډ پورې غاړې ته د پرتو قومونو په ځانګړي ډول د مسيدو، وزيرو، اپريدي، مومند چې له افغانستان نه يې ملاتړ کړی دی د حقوق ساتنه ، د جګړې تاوان او دجګړې مسوليت چې لومړی انګرېزانو پيل کړېده دا ځکه چې د امان الله خان مکتوب ته يې په وخت ځواب ونه ويل.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

له دې سر بېره تاريخ پوه غبار هم په دې اند دى چې د بهرنيو چارو وزير محمود طرزى هم د يوې ليکنې له مخې پلاوي ته ښودنه وکړه چې هرو مرو په دغه ټکو ټينګار وکړي:
د پلاوي غړي بايد درايو په يوالي سره پرېکړه وکړي، پلاوى تر هغه بريده واک لري چې ورته ورکړل شوى دى.
له هغې آخوا بايد پلاز او مرکز نه هدايت وغواړي (خو کاشکې چې طرزي دې دندې ته ګومارل شوى وى).
هغه څه چې ډېر اړين دي او سر غړونه ترې ناشوني ده هغه د افغانستان بشپړه خپلواکي د يو شمېر سرحدي سيمو په ګډون. امان الله خان هم د جبهو پوځي مشرانو ته وکاږل:
چې برتانوي چارواکي سوله غواړي، که چېرې دغه سوله د افغانانو خپلواکى ته درناوى وي زموږ پت او عزت پکې خوندي وي خو ښه، او که چېرې نه وي نو جهاد ته دوام ورکړی .
د سولې پلاوي د جولاى په ۲۶ نېټې (۱۹۱۹ ز کال) په راولپنډۍ کې خبرې اترې پيل کړې.
انګرېزانو ته دا ډېره ګرانه وه چې د افغانستان بشپړه خپلواکي و منې دا ځکه چې دويته افغانستان د هند دروازه وه.
خود«ګرانت**grant** ) د څر کندونو له مخې افغانانو يوازې (**ibid**،۱۲۴ مخ) د دې لپاره جګړه کوله چې هېواد يې بشپړه خپلواکي ولري.**[1]**
افغان پلاوي په دې ټينګار کاوه چې تر هغې به بېرته هېوادته ستانه نه شي چې افغانستان په رسميت و نه پېژندل شي. نو ځکه دا ناشوني وه چې موږ د افغانستان خپلواکي ونه منو.
د برتانوي هند وايسراى چېلمسفورډ هم دا منلې وه چې په منځنۍ اسيا کې د ولسونو ملي احساس... او د بلشويکانو شعارونه په سيمه کې يو شمېر بدلونونو ته لاره پرانيستې وه.
د بهرنيو چارو سکتر ګرانت **grant** هم د غونډې د بلې ورځې پايله افغان پلاوى له خولې د برتانوي هند د بهرنيو چارو وزير ته وويل:
افغانان په خپلو ژمنو دومره ټينګار کوي چې د وزيرستان او نورو قبايلو سيمو په ګډون د لوى افغانستان د خاورې غوښتونکي دي.
ان تر دې چې له بلشويکانو هم غوښتنه کوي چې د پنجده او کشک سيمې هم بېرته افغانانوته ورکړي.
د برتانوي هند دارشيف په پتو اسنادو کې هم د ګرانت له قوله د افغانانو د انګرېزنو په تړاو داسې راغلي دي.
په بهرنيو اړيکوکې د افغانستان خپلواکي، د پاتې اعانې ورکړه، د نوو مرستو ژمنه، د جګړې تاوان، مومندو او اپريديو جنګياليو ته زيان نه رسول.
افغانستان ته د ډيورنډ د کرښې پورې غاړې د قبايلي سيمو په سرکې د وزيرستان سپارل.**[2]**
عبدالصمد دغوث د **Ibid** «له انده (۱۲۹ مخ» کښلي دي چې افغان پلاوي «ګرانت» ته وويل:
ټولې قبايلي سيمې افغانستان ته و سپارئ. ښايي برېتانيه په راتلونکي کې مشکلات ونه ګوري. کوم لګښت چې انګرېزان يي کوي دهغه نيم لګښت د افغانستان ته ورکړي.**[3]**
ګرانت له افغان پلاوي نه و غوښتل چې هندي انقلابيون له خپلې خاورې وباسي. خو افغانانو په قبايلى سيمو ټينګار وکړ دوى هم له خپلې خبرې پر شاشول.
د دواړو غاړو تر منځ خبرې اوږدې شوې چې ان د اګستې تر شپږمې (۶) نېټې پورې دوام وکړ.
ګرانت د د پرلپسې تلګرامونو له مخې د خبرو اترو د هر پړاو په تړاو د برتانوي هند چارواکوته نوي معلومات ورکول. ولي علي احمد د محمود طرزي د «رهنمود» خلاف له کابل سره هېڅ اړيکه ونه نيوله او په خپلې سر تمبګې او د خپل ژباړن ډاکټر عبدالغني په سلا يې ټينګار کاوه.
د علي احمدخان په تړاو ګرانت په يو شمېر تلګرامونو کې ويلي دي:
على احمدخان د خپلو ملګرو په منځ کې يوازينى کس دى چې سولې ته ژمن ښکاري... دې له موږ سره ښې اړيکې پالي، ما له علي احمد خان نه وپوښتل چې د پلاوي غړي غواړي چې موږ سره تړون لاس ليک کړي؟
ده وويل کفايت کوي چې يوازې زه يې لاسليک کړم، له دې څخه څر ګندېږي چې نور ملګري يې نه غواړي چې موافقه لاسليک شي.**[4]**
په پاى کې د اګست په اتمه(۸) نېټه دواړې غاړې په سر کې علي احمد خان او ګرانت دې پايلې ته ورسېدل چې يو پنځه فقره ييزه موافقه لاس ليک کړي چې لنديز يې داسې دى:
۱ ــ تر لاس ليک نه وروسته د افغانستان او انګرېزانو تر منځ د سولې پاينښت.
۲- افغانستان نشي کولاي چې دهند له لارې خپل هېوادته وسله وه لېږدوي.
۳- کومې پيسې چې امير حبيب الله خان ته ورکړ کېدلې او د برتانوي هند په خزانه کې خوندي دي پاچا امان الله ته به نه ورکول کېږي.
۴- که چېرې د شپږو مياشتو په موده کې افغانستان د انګرېزانو ددوستۍ جوګه شي، نو بيابه د يوبل پلاوي تر منځ خبرې پيلېږي.
۵- د افغانستان او هند تر منځ هماغه پوله د منلو وړده چې دامير حبيب الله په مهال منل شوې وه.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

د میرغلام محمد غبار په اند چې کله علی احمدخان دغه موفقه لاسلیکوله نو وه ربړدېده او دانګلیس په ګټه یې امضا کړه.[5] ولې بیا هم دموافقې خلاف برتانویانو د خیبر لوېدیز ته خاوره چې افغانانو پرې دعوه درلوده په خپل قلمرو کې ونیوله، له دې سربېره په حقوقي ډول پلاوي ته ویل شوي ول د خپل واک په چاپېریال کې د پرېکړې حق لرئ او هم بایدد رایو په اتفاق پرېکړه وشي.
ولې هر څه علي احمد خان وکړل، خو کله چې کابل ته ورسېد. ..لومړی امان الله دی ورټه او ورروسته یې و غوښتل چې اعدام یې کړي.
ولې مور یې د خپل وراره په ملاتړ و درېده او ان داچې خپله لور یې ورته په نکاح کړه.
دغه تړون د اګست په ۸ نېټه د اسد په ۱۸ مه لاسلیک شو پلاوي په لسو ورځو کې ورسېد او پاچا د اګست په (۱۸) پرې لاسلیک وکړ پدغه ورځ په ارګ او زرنکار کې خلکو جشن ونیو.

**د خبرو دوهم پړاو:**
د راولپنډۍ له موافقې نه وروسته بیا هم برتانوي ځواکونو د ډیورنډ کرښې پورې غاړې په وسله والو بریدونو(په ځانګړې ډول وزیرستان) وځپلې اوهم کله چې په وسلو راوړلو بندیز و لګېد. امان الله دېته اړ شو چې د شوروي له لارې وسلې تر لاسه کړي.
برتانوي چارواکو د روسانو د دوستۍ له وېرې افغانانو ته وړاندیز وکړ چې د دوستۍ په نوم یو پلاوي هندوستان ته ولېږي.
د اپرېل د میاشتې په (۱۲) نېټه (۱۹۲۰ زکال) د محمود طرزي په مشرۍ یو پلاوي چې غړي یې د سوداګریزو چارو وزیر علام محمد خان، پیرمحمدخان، نرنجنداس، څرخی غلام صدیق خان، عبدالهادي داوي، میرزا غلام معروف، میرزا بازمحمدخان او میرزا محمدنعیم خان ول مېسیوري ته ورسېدل.
د برتانوي پلاوي مشري دهنري دابس په غاړه وه. نومړی د هند د بهرنیو چارو منشي وو.
نوموړي داسې انګېرله چې دوروسته پاتې افغانستان د هر پلاوي مشر به د علي احمد خان په څېر وي. نو ځکه یې د تېر په څېر خپلې دوه مخې پالیسې په دغو ټکو پیل کړه:
-افغان حکومت اوس هم د قبایلي مشرانو ملاتړ کوي.
- په افغانستان کې هندي انقلابیون برتانوي هند ته یو سترګواښ دي باید انګرېزانو ته وسپارل شي.
- له شوروي روسیې سره د افغانستان اړېکې د انګرېزانو په زیان دي.
لمړي خو د برتانوي هند چارواکو تر څو میاشتو پورې افغان پلاوي ته ډېره پاملرنه ځکه نه کوله، چې د هندوستان خلکوته دوي بابېزه و ښیي. ولې کله چې خبرې هم پیل کړې په ډېرې بې پروایی پرمخ وړلې.
خو افغان پلاوي په سرکې محمود طرزي د هندوستان له وګړو سره په لیدونو او کتنو داسې ښوده چې افغانستان یو خپلواک هېواد دی او دېته چمتو دی چې د هند له خلکو سره هر اړخیزه مرسته وکړي.
د ده لیدني او کتني دومره ګټوری پرېوتې چې د روهیلکنډ خلکو یو لیک د طرزی پلاس امان الله خان ته واستوه.
محمودطرزي پخپلو خبرو کې په رسمي بڼه خپل سیال دابس**(Dubs)** ته وویل:
-داچې برتانویان د افغان او روسیې له دوستۍ نه وېره لري غوره به وي چې د قبایلو ستونزه له افغان حکومت سره حل شي. دغه سېمې باید افغانستان ته وسپارل شي او یا خپلواکې شي.
- برتانوي هند چارواکو چې کوم بندیزونه د وسلې به راوړلو لګولي دي باید لرې شي.
- افغان حکومت هیله لري چې له ترکې مسلمانانو سره ښه سلوک غوره کړي.
- مور دانساني خوا خوږۍ له مخې د هندوستان انقلابیون برتانوي هندته نشو سپارلی.
- که چېرې پرته له ځنډه وزیرستان افغانستان ته و سپارل شي افغان حکومت به له برېتانیې سره یو ځای د بلشویکانو پر وړاندې ودرېږي. او دبخارا، خیوې، ترکمنستان وګړو سره به هر اړ خیزه مرسته وکړي.
د دواړو لورو خبرې پرته له کومې پایلې او نتیجې پای ته ورسېدې او د جولای په ۲۴ نېټه (۱۹۲۰ ز کال) د برتانوي هند چارواکو یو لیک د امان الله خان په نوم پلاوي ته وسپاره چې پکې لیکل شوي وه.
موږ د افغانستان استقلال پدې شرط منو چې د ډیورنډ د کرښې دې غاړې ولسونو سره مرسته ونه شي.
د **(Ibid)** په اند که افغان حکومت په قبایلې سیمو کې لاس وهنه ونه کړي، برېتانیه ژمنه کوي چې د افغان حکومت سره به د وسلو او پیسو مرسته کوي.
او د ګمرکي محصولاتو پرته به د تلګراف، د رېل کرښې او عصري افغانستان په جوړولو کې مرسته کوي، پدې شرط چې افغان حکومت به د موږ سره پدې تړاو یو سند لاس لیک کړي.« دډېرومعلوماتو لپاره ۱۵۶ مخ وګورئ».
**د خبرو دریم پړاو:**
د برتانوي هند د چارواکو دغه اندېښنه د دوی په اند په ځای وه چې یو شمېر ترکي اوهندي شخصیتونو لکه په کابل کې د هند د موقتې حکومت ریس مهندراپرتاب، صدراعظم مولوي برکت الله، د بهرنیو چارو وزیر مولاناعبیدالله، د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنېزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولئ

عثماني ترکيي يو شمېر پخواني چارواکي انور پاشا طلعت پاشا او جمال پاشا هم په سيمه کي فعال ول، ولي داچي برېتانيا حق درلود چي اروپا نه دهند نيمي وچي ته راشي، نو پاچا هم دا حق درلود.
پدغسي شرايطو کي دا بس په جنورى کي افغانستان ته رسمي سفر وکړ، چي له دي سره جوخت د افغانستان او شوروي تر منځ د دوستى تړون چي په ۱۹۲۱ز کال (د فبرورى په ۲۸ نېټه) لاسليک شو. دا يو بل ګوزاروه چي د برېتانيا هېواد يې هک پک کړ.
له دي تړون نه دوه ورځي وروسته د افغانستان او ترکي ترمنځ تړون چي په مسکو کي په امضا ورسېد، د برتانوي هند چارواکي يې وه لړزول.
د افغانستان او شوروي تر منځ د سفيرانو په کچه دپيلوماتيکو اړيکو برېتانيا لا اندېښمنه کړې وه.
کله چي له امريکي پرته يو شمير لوېديځ والو په سرکي فرانسي، جرمني او ايتاليي هېوادونو د افغانستان خپلواکي په رسميت وپېژندله.
دافغانستان او برېتانيي اړيکي يو ځل بيا خړې پړې شوې، خو بيا هم انګرېزانو کوښښ کاوه چي د منځنی اسيا دپېښو په تړاو له افغانستان سره سر وخوځوي.
نو ځکه يې دا ورسره ومنله چي افغانستان کولی شي يو شمېر وسلي او تخنيکي توکي له برتانوي هندنه افغانستان ته وه لېږي.
ولي يوه خبره چي افغان چارواکو پرې ټينګار کاوه هغه د ډېورنډ د پورې غاړې د خلکو برخليک وه چي د بېلابېلو سيمو او قومي مشران لخوا حکومت ته ويل شوي ول چي د ډېورنډ کرښه له مينځه يوسي چي موږ يو شمېر مشران د ساري په توګه يادولی شو:
د ملا پوونده زوی شهزاده فضل الدين، ملاسيد اکبرخان، د محمود اخون زاده زوی عبدالخالق خان. ..همدا راز د يو شمېر قومونو استازي لکه: د اکا خېلو، ملک دين خېلو، کوکي خېلو، قنبرخېلو، زخه خېلو، کمرخېلو، ادم خېلو، ساپيانو، مومندو، شينوارو، ترنګزيو، اتمانزيو او د نورو ټبرونو او خېلونو استازي چي شمير يي د څلورو سونو(۴۰۰) تنو شاوخواته رسېده د بېلګي په توګه د يادولو وړدي.
برتانوي چارواکي د افغانستان د پېښو په تړاو ډېر اندېښمن ول.
ددي لپاره چي سيمي او نړی په تېره د هند نيمي وچي ته وښيي چي افغانستان لا تر اوسه يو خپلواک هېواد نه دی ، نو په څرګنده يي په رسميت نه پېژانده.
خو کله چي د افغانستان استازي محمد ولی خان د پاچا امان الله خان او د بهرنيو چارو وزير محمود طرزي په لاربښونه له روسيي، ترکيي، ايران او له يو شمېر لوېديزو هېوادونو سره دېپلوماتيکي اړيکي يو د بل پسي ټينګولي دوی يي لا ور ختا کړي وو.
دوی په خپلو بريکړو کي دومره ورختاو چي کله ايتاليي هېواد له افغانستان سره سوداګريز تړون لاس ليک کاوه. .. برېتانوي چارواکو اېټاليي هېواته وويل:
د افغانستان هېواد ددي واک او ځواک نه لري چي په خپلواکه توګه تړون لاس ليک کړي.
دوئ ته دي خبرې هم زور ورکړی و چي په کابل کي د سر هنري دابس((Dubs خبرې يوولس(۱۱) مياشتي اوږدي شوی.
د همدي خبرو په لړ کي د افغانستان د سفارت فوق العاده استازی (محمد ولی خان) لندن ته ورسېد د برتانيي هېواد لومړی ونه مانه او ورته يي وويل چي تاسو د برتانوي هند له وزير سره وګورئ.
پلاوي غوښتل چي پرته له کومو خبرو لندن پرېږدي. خو (لارډ کرزن د انګليس د بهرنيو چار وزير) اړ شو چي افغاني پلاوي سره وګوري، محمدولي خان د کرزن د بي پروايی له بابته افغان چارواکوته خبر ورکړ.
محمود طرزی له ډېرې غوسي هنري دابس ته پرته له دې چي بشپړ نوم يي واخلي د يوه ليک په ترڅ کي يوازې «جناب داب» وليکه: چي پدې برتانوي پلاوي د خواشينی يو سخت غبرګون و بنود.
افغان چارواکي د انګلستان په سياسي لوبو پوه شوي ول، نو ځکه يي له شوروي سره د دوستی تړون لاس ليک کړ که څه هم د « بخارا» په سر د دواړو هېوادونو اړيکي خړې پړې شوې وې.**[6]**
خو د انګليس پلاوی لا په کابل کي وه له مسکو سره د فبرورى (۲۸/۲/۱۹۲۱) تړون و وېرول.
ان تر دي چي د پغمان په ميلمستيا کي يي پاچا ته وويل: موږ دېته چمتو يو چي د دوستی تړون لاس ليک کړو. خو پدې شرط چي د روسانو له دوستی نه لاس په سر شئ.
امان الله خان ورته وويل:
هغه څه چي موږ يي غواړو بايد را يي کړی...کوښښ مکوی چي افغانستان ته د نولسمي (۱۹)پېړی په سترګه وګورئ.
کله چي پاچا د ډسمبر په مياشت ۱۹۲۱) کي په اصطلاح د « دوستی) تړون لاسليک کاوه نو وويل:
دغه د دوستی تړون نه دی بلکه د ښه ګاونډيتوب موافقه ليک ورته ويلی شو.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ

دافغانستان او انګلیس موافقه لیک :

د دواړو غاړو له اوږدو خبرو وروسته چې نږدې یو کال یې دوام وکړ، په پای کې دې پایلې ته ورسېدل چې محمود طرزی او دابس ددواړو هېوادونو (افغانستان او بریتانیې) په استازیتوب یو تړون لاسلیک کړ چې په څوالسو(۱۴) مادو کې ترتیب شوي وه.

به دغه موافقه لیک کې یو ځل بیا د افغانستان بشپړه خپلواکي (په کورنیو او بهرنیو چاروکې) په څرګندو ټکو ومنل شوه،

خو له بده مرغه د تېر په څېر د ډېورنډ موافقه لیک تایید شو، د دواړو هېوادونو له خوا د استازو منل چې عبدالهادي داوي د افغانستان د لومړني سفیر په توګه لندن کې په کار پیل وکړ.

په ننګرهار، پېښور،کوېټه، ډیلي، کلکته، ممبیې او کراچي کې د قنسلګریو پرانستنه هم وشوه.

دواړو لوریو دا ومنله چې باید په قرارداد کې یې یادونه وشي چې دواړه حکومتونه « افغانستان به حالات قبایل سرحدی زیر اثر هر دو حکومت علاقه دارد.[7]

دا ځکه چې ځو واري د خبرو بهیر له همدې امله له ځنډ او ځنډ سره مخامخ شوی وه.

تړون لاسلیک شو خو دواړه غاړي خوشاله نه وي. د ډېورنډ دواړو غاړو ته هم پراته قومونه نا خوښ ول.

د هند کډوال په کا بل کې پاتي شول، د برتانوي هند چاراوکوته ونه سپارل شول.

له دې ټولو مهمه دا چې د لندن له پارلمان نه دغه موافقه لیک تېر شو.

خو افغانستان ته دغه ډېره مهمه خبره وه چې په کورني او بهرنی سیاست کې ازاد او خپلواک شو،خوسره دهغې هم امان الله خان د انګرېزانو په نیت پوهېدلی و چې نه غواړي د زړه له کومې له افغانانو سره ښې اړیکي ولري نو ځکه یې د هغوی په دوستۍ باور نشو کولای.

بله کومه خبره چې پاچا ته مهمه وه د قبایلو خپلول وو چې له برتانوي هند نه یې جلاکړي.

د افغانستان پاچا ته دا هم په زړه پوري وه چې د لمړۍ نړیوالي جګړې نه وروسته د عثماني ترکې په وېشلوکې د برتانوي ښکېلاک لوی لاس وو.

ولې له دې سره سره دا وېره هم ورسره وه چې (سره ښکېلاک) سرو لښکرو اوپوځونو په منځنۍ اسیا کې په تېره بخارا او خېوې کې خپلې منګولې ښخې کړې وې.

امان الله خان او د بهرنیو چارو وزیر محمود طرزي دواړو کوښښ کاوه چې د دوه زبر ځواکو هېوادونو په منځ کې خپلې ډیپلوماتیکي اړیکي داسې ټینګې کړي چې دافغانستان ملي ګټې خوندي وي.

افغان پاچا امان الله خان پدې پوهېده چې د دولتي او ټولنیز جوړښت له مخې د شوروي فدرالي روسي او د سرمایه داري رژیمونو تر منځ بنسټیز سیاسي اختلاف شتون لري.

نو ځکه یې شوروي اتحاد ته د دوستۍ لاس اوږد کړ.

ده له مخکې د دربار غلام بچه ګانو مشر محمد ولي درواز د اپرېل په سرکې (۱۹۱۹ ز کال) د بخارا د سفیر په توګه ټاکلی وو.

شوروي دولت هم لمړنی هېواد وو، چې د مارچ په اوه ویشتمه (۲۷) نېټه یې د یوې اعلامې په ترڅ کې د افغانستان خپلواکي په رسمیت وه پېژندله.

پاچا امان الله هم د اپرېل په (۷) مي او شلمې نېټې د شوروي اتحاد مشر لېنن په نوم پیغام واستاوو. دستیوارت د څرګندونو له مخې:

... ایران، ترکې، جاپان، فرانسې او امریکې ته هم ورته پیغامونه د ډیپلوماتیکواړیکو د ټینګښت لپاره واستول شول. [8]

د برتانوي چاراوکو(کینه) شببه په شببه ډېرېده او د افغانستان د ډیپلوماتیکو اړیکو د پراختیا څخه یې نه در لود.

دوی په ډاګه ویل چې د افغانستان په جنوب ختیځ کې د روسیې قونسلګرۍ پرانسته د برتانوي هند په کورنیو چاروکې لا س وهنه ده.

افغان واکمن ته د پنجدې خبره هم ډېره مهمه وه نو د بهرنیو چارو وزیر محمود طرزي ته یې دنده وسپارله چې« دابس » دېته را مات کړي چې د افغان وسلوال پوځ سره د وسلو مرسته وکړي. که چېرې روسیه د هېواد په شمالي سیمو برید وکړي چې موږ یې په کلکه د پرمختګ مخه و نیسو.

موږ د وسلو له مرستې پرته د روسانو د برید مخه نشو نیولی او که چېرې له موږ سره بېړنۍ مرسته وشي تېري کونکو ته پرمخ څېره ورکولي شو.[9]

امان الله خان غوښتل، پخوا تردې چې له روسانو سره اړیکي پرې کړي، باید د انګرېزانو لخوا ډاډ تر لاسه کړي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دواړو ښکېلاک ګرو (روسيي او انګليس) هېوادونو د افغانستان ثبات نه غوښته او شوکاري کاوه يي. پخپلو څرګندونو چي ژمن نه ښکارېدل، نوځکه د روسيي استازي (سوريتز) وويل چي موږ پدې ټينکار نه کوو چي د برتانوي هند په ګاونډ قونسلګري پرانيزو.
حال داچي، مرکزي حکومت لوړه او ژمنه کړې وه چي امير ته به پيسي او وسلي ورکوي. هغه ته بايد ډاډ ورکړل شي پدې شرط چي به روسانو سره اړيکي پرې کړي.**[10]**
له بده مرغه چي افغان چارواکي د روسيي او انګليس له دې پرېکړې خبر نه ول چي دوی د سوداګريزو اړيکو په بهيرکي د روسيي استازو انګرېزانو ته ډاډ ور کړی وه چي موږ د قونسلګريو پرانيستي ته بيړه نه لرو.
ولي بيا هم د «ستيوارټ» په اند افغان ټولواک دېته اړ وه چي د دوه سترو ګاونډيو ترمنځ داسي حالت غوره کړي چي د هېواد خپلواکی ته يي زيان ونه رسېږي.
د افغانستان خپلواکي دی دېته هڅاوه چي د دواړو ځواکمنو ګاونډيو تر منځ انډول وساتي، په همدې موخه يي روسانو ته لاس اوږد کړ.**[11]**
**له شوروي اتحاد سره د افغانستان اړيکې**
الکساندر براوين د روسيي لمړی استازی وه، چي د افغانستان له خپلواکی وروسته د ۱۹۱۹ ز کال په پای کي د افغان چارواکو سره خبرې پيل کړې.
د دوی د خبرو موخه داوه چي افغانستان د بريتانيا له دوستی او اړيکونه لرې وساتي.
افغان پلاوي د مي په ۲۸ مي نېټي د محمد ولي خان په مشري چي غړي يي لودين عبدالرحمن، محمد ګل خان مومند، ميرزا محمد خان يفتلي، فيض محمد خان زکريا، سيف الرحمن، عبدالحميد، هدايت الله، بشيراحمدخان، عزيزالرحمن، اديب افندي او بيا وروسته څرخي غلام صديق خان ول د تاشقند په لور رهي شول.
پلاوي لمړنی خبرې په کابل کي د شوروي لخوا ټاکل شوي سفير الکساندر براوين سره پيل کړې. وروسته مسکو ته وخوځېدل چي په مسکو کي له درانه هرکلي سره مخ شول او بيا يي له لېنن سره هم وليدل.
د خبرو اترو بهير له چټک بدلون سره پرمخ روان وه. ان داچي د فبروری په ۲۸ (۱۹۲۱) نېټي د دواړو هېوادونو لخوا يو تړون هم لاسليک شو.
ولي شوروي اتحاد غوښتل چي د تزاري روسيي په څېر د منځنی اسيا په هېوادونو کي خپله ولکه ټينګه کړي. افغان واکمن امان الله نه يوازې د پنجدې، مروې او د يو شمېر نورو سيمو بېرته ترلاسه کول غوښتل. بلکي د بخارا او خېوې د خپلواکی ملاتړ يي هم کاوه.
همدا لامل وه چي د بخارا له امير سيد مېرعالم خان سره يي دهغه د وړانديز له مخي پوځي مرسته وکړه.
برتانوي چارواکو هغسي هم يوه پلمه لټوله چي د افغانستان او شوروي تر منځ څرنګه اړيکي خرې پرې کړي؟
دوی ته د شوري اتحاد او جرمني هېواد هغه تړون هم په زړه وه چي د دواړو هېوادونو لخوا په ۱۹۱۸ کال کي د مارچ په مياشت د «برسټ ليتو فسک) پنوم لاسليک شوی وه.
جنرال مليسن **General wilfird malleson** ديوه پوځ په ملتيا چي وسلي او پيسي ورسره وې مشهد ته لاړ.
د بخارا ځوانانو چي د امير سيد عالم خا ن په وړاندې پاڅون پيل کړی وه د اګست په مياشت (۱۹۲۰) کال کي بخارا ونيوه، يو شمېر چارواکي او پوځيان يي ونيول چئ پدې کي افغانان هم شامل ول،
د افغانستان د بهرنيو چارو وزارت د عبد الهادي داوي په مشرئ يو پلاوی چي غړي يي څرخي غلام صديق، غلام حيدر خان ول د اکتوبر په (۲۰) شلمه نيټه بخارا ته واستوه.
پلاوي د بخارا له ولسمشر غلام محی الدين، خواجه عبدالرحيم په کابل کي د بخارا سفير (چي بيا يي افغان بيعت ومانه) او د يو شمېر نورو چارواکو سره خبرې وکړې.
داوي د افغانانو د ښه نيت څرکندونه وکړه او ورته ويې ويل افغانستان نه غواړي چي د بخارا په کورنيو چاروکي لاسوهنه وکړي.
دوی هغو ټکو ته هم ګوته ونيوه ...موږ غواړو چي بخارا يو خپلواک هېواد وي، بيا يي افغان بنديان خوشي کړل، پلاوی بېرته راستون شو.
د بخارا پخوانی امير د يوې مودې لپاره په دوشنبه کي وو بيا افغانستان ته راغی او په فبروری کي (۱۹۲۱ز کال) کابل ته ورسيد او همدلته ومړ.
د افغانستان چارواکي په دې پوهېدل چي ښکېلاک ګر هېوادونه چي په هره بڼه کي وي خپلي موخي لري.
شوروي اتحاد هم لکه د برتانوي چارواکو په څېر په خپلو ژمنو پښي کېښودې او کوم څه يي چي ويلي وه په هغو خبرو ونه درېدل.
لکه د بخارا او خېوې خپلواکي، افغانستان ته د هغو سيمو بېرته سپارل چي د تزاري روسي د بريدونو پرمهال نيول شوي وې، د سوداګريزو توکو لېږد او رالېږد پرته له کوم محصول نه د قونسلګريو پرانسته او نور يادولی شو.
د لودويک ادمک د څرګندونو له مخي:
« شوروی اتحاد منلي وه چي هر کال به يوميليون روبل سره او سپين زر افغانستان ته د مرستي په ډول ورکوي.**[12]**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

د نوي بلشويکي حکومت چارواکو ويناوې د يوه غولونکي سياست پر بنسټ ولاړې وې او د افغانستان حکومت هم يو لړ خپلې غوښتنې لرلې نو ځکه ددواړو هېوادونو اړيکې خړې پړې شوې.

**دافغانستان او شوروي د اړيکو خړپړتيا**

په قبايلي سيمو د برتانوي هند پر له پسې بريدونو، دهند له لارې افغانستان ته د وسلو په راوړلو بنديزونه، له بهرنيو هېوادونو سره دافغانستان اړيکې او يو شمېر نور لاملونه ول چې د افغان او برتانوي چارواکو تر منځ يې سياسي باور زيان من کړی وه.

افغان واکمن امان الله دېته لېواله و چې د يوه خپلواک او سرلوړي افغانستان پاچا وي.

د يادو ستونزو د لرې کولو لپاره يې غوره وګڼله چې له شوروي اتحاد سره دوستانه اړيکې ولري.

دا چې ولې دغه اړيکې ونه پالل شوې او د دواړو لورو د بې باورۍ لامل شوې؟

پدې تړاو يو شمېر لاملونو ته سر ښکاره کو:

-شوروی اتحاد د تزاری روسيې په څېر غوښتل چې تودو اوبو ته لاره پيداکړي. نو ځکه يئ کوشش کاوه چې له افغانستان سره دوستانه اړيکې ولري.

- دې موخې ته درسېد و لپاره شوروي چاراوکو ژمنه وکړه چې د افغانستان نېولې سيمې بېرته پرېږدي.

له دې سربېره افغانستان او شوروي اتحاد د خېوې او بخارا خپلواکی ته هم غاړه کېښودلې وه.

-شوروي چارواکو نه يوازې داژمنې عملي نه کړې بلکه په منځنۍ اسيا کې د افغان حکومت اغېزو لا هم شکمن کړل.

- شوروي اتحاد دا نشوی ځغملی چې افغان چاروکو د منځنۍ اسيا د مسلمانانو يوالی غوښت.

په مروه کې د (۴۰۰) څلور سوه افغان سرتېرو ځای پرځای کېدل، د يو شمېر قومونو ترمينځ جوړجاړی ،د سرخس په سيمه کې د افغانانو پر مټ د ترکمنانو خپل منځي يوالی، د بلشويکانو د جريمو لغوه کول، په فرغانه کې د محمد امين بيک سره د افغانانو مرسته.

دغو لاملونو او ددې په څېر داسلامي او انساني خوا خوږيو له کبله افغان، شوروي اړيکې د ١٩٢٠ ز کال په لومړيو کې دومره خړې پړې شوې چې شورويانو له ډېرې غوسې نه وسله وال بريد ته ملا وتړله.

ـ د سره ښکېلاک سره پوځ فرغانه او خېوه لاندې کړه اوله « پنجدې» نه يې د افغانانو لاس لنډکړ.

ـ په بخاراکې د بخارا له امير نه وروسته شوروي چاراوکو، د شورا په بڼه د يوه حکومت بنسټ کېښود. چې پدې سره افغان، شوروي اړيکې لازيانمنې شوې.

ـ په فرغانه، بخارا، او دمنځنۍ اسيا په نورو سيمو کې د ترکې د يوه پخواني چارواکي انور پاشاه هاندې او هڅې چې مسلمانان يې د شوروي په وړاندې لمسول.

امان الله خان چې خپل ځواکونه يې د هېواد شمال ته و لېږدول، روسان يې اندېښمنن کړل. د امو سيند په منځ کې د «درقد» د سيمې په سر دافغان، شوروي اړيکې دومره د خواشينۍ کچې ته ورسېدې چې پاچا امان الله د هېواد شمال ته ځواکونه واستول.

ولې روسان د درقد له ټاپو نه پرشا شول. د مينځنۍ اسيا له وګړو او له ترکانو سره د پان اسلامېزم مفکورې پر بنسټ، له «باسمچي» (شوروي ضد ځواکونه) ځواکونو سره د دامان الله خان انساني، اسلامي، او اخلاقي مرسته.**[13]** روسان نهيلي کړل.

### پاچا امان الله څه غوښتل؟

امان الله خان پدې اند وه د افغانستان او برېتانيا تر منځ چې کوم دفاعي تړون شتون نلري. ولې بيا هم د هند د ساتلو لپاره که شوروي په افغانستان بريد وکړي بيا يې افغانستان وژغوري او مرسته ور سره وکړي.

که څه هم شوروي دومره پوځي او اقتصادي ځواک نه درلود، چې په افغانستان بريد وکړي. ولې بيا هم د بخارا او خېوې نيول، په افغانانو ناوړه اغيزه وکړه.

ددې ترڅنګ يې دغه وېره هم خوره کړې وه چې د منځنۍ اسيا افغانستان او هند د وګړو تر منځ د تګ او راتګ په وسيله کېدای شي کمونستي اند او فکر د هند تر نيمې وچې پورې خپور شي.**[14]**

افغان واکمن امان الله غوښتل چې د منځنۍ اسيا په هېوادونو کې خپلواک هېوادونه د اسلام د سپېڅلي دين په رڼاکې منځته راشي.

د « بسمه چي » پنومِ غورځنګ هم پدې هيله چې يو خپلواک اسلامي هېواد جوړ کړي د شوروي اتحاد په وړاندې پاڅون وکړ.

امان الله خان پدې اند وه چې بايد افغانستان د عثماني تر کې په څېر دريځ ولري دا ځکه، په لومړۍ نړيواله جګړه کې عثماني ترکيه ماته شوه او خپل پخوانۍ برم يې له لاسه ورکړ.

چې يو شمېر چاراواکي په سر کې انور پاشا، طلعت پاشا او جمال پاشا لمړی شوروي او ورپسې افغانستان ته راغلل.

د بخارا پاشا سيد عالم او ابراهيم بيګ هم چې د منځنۍ اسيا د خپلواکۍ لپاره جنګېدل په افغانستان کې استوګن شول.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د برتانوي هند يو شمېر مخکښ ازادي پلوي هم په کابل کې فعال ول...دا ټول هغه لاملونه ول چې پاچا امان الله يې دېته هڅاوه چې يو کنفډريشن جوړ کړي.
افغان حکومت ليدل چې شوروي اتحاد نه يوازې خپل ځواکونه د بخارا او خېوې نه د خپلو ژمنو له مخې ونه ويستل بلکې خپلې مورچلې يې ټينګې کړې.
دافغانستان د بهرنيو چارو وزارت په کابل کې شوروي استازي(راسکولينکوف) چې نوی د (سوريتز) پرځای ټاکل شوی وه د اعتراض په توګه وويل چې شوروي ځواکونه بايد له منځنۍ اسيا نه ووځي. هغه وويل چې دغه لړکې ځواکونه د بخارا د حکومت په بلنه راغلي دي. کله چې حکومت وغواړي چې دوی ووځي نو پرته له ځنډه به سيمه پرېږدي.
ولې شوروي اتحاد د خپل دغه غولونکي سياست له مخې د منځنۍ اسيا هېوادونه لکه د تزاري روسيې په څېر تر خپل واک او ځواک لاندې راوستل.
انور پاشا پدې پلمه چې غواړي د انګرېزانو په وړاندې مسلمانان و هڅوي د شوروي چاروا‌کو ملاتړ يې خپل کړ.
هغو هم لمړی دی باکوته واستوه او وروسته يې ترکستان ته و لېږه.
نوموړي په ۱۹۲۲ ز کال د مارچ پر مياشت کې د بسمه چيانو سره مل شو او د شل (۲۰) زره تنو په شاوخوا کې اسلام پالي ځوانان پر ځان راټول کړل.
جمال پادشا هغسې هم په افغانستان کې وه او ابراهيم بيک هم لکه د انور پاشا په څېر د يوه پياوړي لښکر سروال وه، د يو شمېر څرګندونو له مخې کابل چاروا‌کو په مارچ کې (۱۹۲۲)کال د انګليس استازی « همفرېز» ته داسې ويلي وو:
امان الله خان هم په (۱۹۲۲کال مارچ) کابل کې د برتانيا داستازي همفريز له لارې انګرېزانو نه وغوښتل چې د بخارا او خېوې خپلواکي ومني. او هم د وسلو او پيسو مرسته ورسره وکړي. ولې هغوی دده وړانديز ته کوم ځواب ورنه کړ**[15]**.
ددې لپاره چې ابراهيم بيګ، انوربيګ او جمال پاشا او نور پدې ډاډه شي چې افغان ټولواک د بخارا او خېوې ازادی ته ژمن دي. نو بيايي ددفاع وزير محمد نادرخان د قطغن تنظيميه رئيس، د عدليې وزير محمد ابراهيم او څرخي غلام نبي خان مزارشريف او شجاع الدوله يې هرات ته ولېږل.
له دې سربېره يو شمېر پوځي ځواکونه يې د انور پاشا په ملاتړ لپاره بخاراته واستول چې په فرغانه کې له « بسنمه چې) جنګياليو سره مرسته وکړي.
سايکس **percy sykes** په خپلو څرګندونو کې ډاګيزه کړې ده چې دا خبره شوروي چاروا‌کوته څرګنده شوې وه چې افغانان د منځنۍ اسيا له ازادی بښونکوسره مرسته کوي نو ځکه يې:
(سردار عبدالرسول خان چې افغان سفيروه پدې تور له بخارا نه بهر کړ چې له جنګياليو سره مرسته کوي.**[16]**
سکاټ هم د امان الله خان د دربار منشي له خولې چې په انګليسي ژبې يو اثر يې ليکلی دی.(اوس په برېټش کتابتون کې خوندي دی) منځنۍ اسيا ته پرلاره د باندنيو چارو وزارت يو پوسته چورشوه چې يو شمېر سندونه يې شورويانو ترلاسه کړل. (۷ مخ)
شوروي چاروا‌کو سربېره له دې چې بخارا يې د يوه وسله وال بريد په ترځ کې وځپه بلکې ګڼ شمير کسان يې دېته و ګمارل چې له منځنۍ اسيا نه را واخله تر افغانستانه پورې دا ټولې سيمې بايد و څارې.
په دغو څار ګرو کې يو هم اقابکف **Georges agabekov** وه ده ډېر څه په خپلو سرګو ليدلي او کتلی دي، نه يوازې ده بلکې والټر هم، دوی دواړو په افغانستان کې دندې درلودې چې جاسوسي وکړي.
د (پنجدې) په تړاو د نورو په څېر دوی او د جي- پي-يو- غړيو په وار وار دغه خبرې غبرګی کړېدې چې شوروي چاروا‌کو په ښکاره نه غوښتل چې د افغان چاروا‌کو سره ښکېل شي. ولې له يوې خوا يې له هغو سره سر خوځاوه او له بلې خوا سره پوځ ته دنده وسپارله چې پنجده لاندې کړي.
څار ګروته دا په غوږ کې څخول شوی وه دا په ډاګه وواېي چې د پنجدې خلکو پخپله نه غوښتل افغانستان حکومت پورې وتړل شي.
د جي- پي- يو- مشر په خپلو کې يوه ورځ په ځغرده وويل: د« ريفرنډم) خبره د نړيوالو لپاره موږ شار بلله کنه ځواکونه مو د خلکو په جامو کې ور ولېږل او پنجده مو لاندې کړه.
بلشويکان هم لکه د « پترو کبير» غوندې پدې لټه کې ول چې د هند سمندر ته ځانونه ورسوي.
په لړې ختيز کې زيړ سمندرګی او په منچورياکې «پورټ ارتر) بندر ته لاس رسی ولري.
خو د روس او جاپان جګړې (۲۰ مې پېړۍ په سرکې) د دوی لاسونه لنډ کړل.د دې يو لامل دا وه چې د اکتوبر(۱۹۱۷ز کال) انقلاب تزاريان نسکور کړل دا ارمان يې تر سره نشو.
افغانستان ته د شوروي اتحاد « او ليتماتوم)» له يوې خوا د انور بيک وژل د ابراهيم بيک اعدام او د انګرېزانو لاسوهنه له بلې خوا د پاچا امان الله هغه هيله تر سره نکړه چې غوښتل يې په افغانستان کې د اسلامي (کنفډريشن) بنسټ کېږدي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

( نوربیا )

[1]:- غبار میر غلام محمد افغانستان در مسیر تاریخ ۷۷۶-۷۷۵ مخونه
[2]:- د برتانوي هند د ارشیف پټ اسناد (۱۹۱۹ )ز کال
[3]:- غوث عبدالصمد سقوط افغانستان ۴۶مخ
[4]:- د برتانوی هند ارشیف پټ اسناد ۸۳۲ گڼه
[5]:- غبار میر غلام محمد افغانستان در مسیر تاریخ ۷۷۵مخ
[6]:- غبار میر غلام محمد در مسیرتاریخ ۷۷۸ مخ
[7]:- غوث عبد الصمد سقوط افغانستان ۶۰ مخ
[8]:- ستیوارت په افغانستان کي اور لگېدنه چاپ کال ۱۹۷۳ او ۳۷ مخ
[9] :- Rhea tally stewart, firein Afghanistan 1914-1929 ( newyark), 1973. P.163-64
[10] :- Adamec, sfghsnistan , 1900-1923/1610
[11] :- Stewart, firein sfghanistan. P: 183
[12]:- لودویک ادمک د شلمې پېړی تر نیمایي پورې....۶۱مخ
[13] :-vartan Gregorian, the emergence of modern Afghanistan …Stanford university press, 1969,p; 236
[14]:- غوث عبد الصمد د پوهندوی ساکایي ژباړه سقوط افغانستان ۶۱مخ
[15]:- ادمک لودویک د شلمې پېړی تر نیمایي د افغانستان اړیکي ..۷۰مخ
[16]:- سایکس percy sykes سل رسمي سندونه ، قلمي نسخه ۲ ټوک برټش کتابتون ۲۹۵ مخ . ارنولډ فلچر ۱۰ اي (۲۰۲-۲۰۰ مخونه) د افغانستان بهرنی سیاست (ادمک) ۷۱-۷۰ مخونه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزی بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ